د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا ۚ يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا ۚ وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

شنبه 22 ذی‌القعده، ۱۴۴۵هـ | ۲۰۲۴/۰۶/01م | ګڼه: ح.ت.افغ 27/۱۴۴۵

## مطبوعاتي اعلاميه

## د دوحې ۳مه ناسته یو استعماري مېکانېزم دی او په هغې کې ګډون خطرناکې سیاسي پایلې لري

په دې وروستیو کې د ملګرو ملتونو استازي، غربي او قطري ډیپلوماټان د دوحې ۳مې ناستې پر ناسته او اجنډا د سرپرست حکومت له استازو سره مشورې او خبرې اترې کوي. دغه استازي هڅه کوي چې د جلبوونکو وړاندیزونو او هڅوونکو مواردو په وړاندې کولو سره د حاکم نظام چارواکو ته قناعت ورکړي چې په دغه ناسته کې ګډون وکړي.

د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر د دوحې ۳مه ناسته یوه نړیواله استعماري ناسته بولي چې په هغې کې امریکا د یوه داسې نوي مېکانېزم د ایجاد په لټه کې ده چې په افغانستان کې لاسوهنو او د خپلو ګټو خوندیتوب ته لاره هواره کړي. په دغه ناسته کې هر ډول ګډون خطرناکې سیاسي پایلې لري. د دوحې ۳مه ناسته کې د امریکا په مشرۍ نړیوال کفري نظم کې د حاکم نظام د ادغام لپاره لاره هوارېږي او د افغانستان د بحران د حل لپاره نوی سیاسي مېکانېزم وړاندې کېږي. په دغه ډول ناستو کې ګډون، که شرطونه هم ولري، زیان اړوونکی دی او باید کلکه ډډه ترې وشي. په حقیقت کې غربي استعمارګر او د سیمې هیوادونه په وروستیو دوو لسیزو کې هیڅکله د افغانستان د بحران د حل په لټ کې نه وو، بلکې دغه ډول ناستې د غربي قدرتونو او سیمه‌ییزو هېوادونو تر منځ په افغانستان کې د منافعو پر سر د مشورو او سیالیو ډګر دی.

مختلفو تاریخي تجربو هم ښودلې چې نړیوال کنفرانسونه او مېکانېزمونه په وروستیو څلوېښتو کلونو کې په افغانستان کې او په وروستیو څو پېړیو کې په نورو اسلامي خاورو د بحران له عواملو وو چې سیاسي بحرانونه یې پېچلي کړي او ډیر وخت یې پرې نیولی، خو هېڅکله یې یوه مطلوبه نسخه نه ده وړاندې کړې چې د اسلامي امت په خیر وي. دغه راز یې ناکامې او زیان‌اړوونکې سیاسي پایلې په نورو نړیوالو قضیو، لکه سوریې، عراق، سوډان او یمن کې هم ښکاره لیدلی شو.

د نړیوالو ناستو د ترسره کېدو اساسي منطق دا دی؛ کله چې لوی قدرتونه و نه شي کولی چې د جګړې له لارې خپلو موخو ته ورسېږي، نو سیاسي پروسې او نړیوال مېکانېزمونه فعالوي چې د هغو له لارې تر پام لاندې هیوادونو کې خپلې ګټې خوندي کړي. دا بې‌څه نه ده چې له افغانستان څخه په شرمناکه توګه د امریکا تر وتلو وروسته په تېرو دوه نیمو کلونو کې د افغانستان په اړه تر ۱۰۰ زیاتې نړیوالې او سیمه‌ایزې دوه اړخیزې او څو اړخیزې ناستې شوې چې اساسي موخه یې حاکم نظام ته سیاسي سفارشونه او په افغانستان کې د لاسوهنې لپاره د نوي مېکانېزم د ایجاد هڅه ده.

په حقیقت کې د افغانستان د بحران د حل اساسي او بنسټیزه حللاره نوي نړیوال استعماري مېکانېزمونه نه دي؛ چې په موډرن ډول او نوې بڼه د برېتانیوي استعمار امریکایي نسخه ده، بلکې اساسي حللاره د نبوت پر منهج خلافت دولت د تاسیس لپاره هڅې دي. هغه دولت چې په اسلامي خاورو کې د استعمار د نفوذ جرړې وباسي؛ امت ته وحدت ورببښي او خپل ټول ظرفیت او وړتیا د ژوند د برنامې په توګه د اسلام د بشپړ او هر اړخیز پلي کولو لپاره سره یو کوي.

**(يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمۡ لَا يَأۡلُونَكُمۡ خَبَالٗا وَدُّواْ مَا عَنِتُّمۡ قَدۡ بَدَتِ ٱلۡبَغۡضَآءُ مِنۡ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَمَا تُخۡفِي صُدُورُهُمۡ أَكۡبَرُۚ قَدۡ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلۡأٓيَٰتِۖ إِن كُنتُمۡ تَعۡقِلُونَ)** [آل عمران: ۱۱۸]

***ژباړه:*** *اې مؤمنانو! له خپلو ځانونو (مومنانو) پرته بل څوک د رازونو شریک مه نیسئ ( ځکه دوی) ستاسې په اړه له هر ډول شر (او فساد) څخه کار اخلي، دا یې خوښېږي چې تاسې په رنځ او کړاو کې یاست، د دوی د دښمنۍ (نښې) یې له خولې (او خبرو) څرګندېږي او څه یې چې په سینو کې پټ ساتلي، تردې لوی دي، موږ تاسو ته (د دوی د دښمنۍ) نښې درښودلي، که چېرې تاسو تعقل او فکر وکړئ.*

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**